ای خلکو! الله ته توبه وباسئ، یقینا زه چې یم د ورځې الله ته سل ځلې توبه کوم)

له الأغرّ رضي الله عنه نه روایت دی، او هغه د نبي صلی الله علیه وسلم له اصحابو څخه و، وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (ای خلکو! الله ته توبه وباسئ، یقینا زه چې یم د ورځې الله ته سل ځلې توبه کوم).

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم خلکو ته د ډېرې توبې او استغفار کولو امر کوي، او له خپلې خوا خبر ورکوي چې دی هره ورځ الله تعالی ته له سل ځله زیات توبه باسي او بخښنه ترې غواړي، سره له دې چې هغه ته د تېرو او راتلونکو ګناهونو بخښنه شوې ده، دا کار د الله جل جلاله په وړاندې د بشپړې عاجزۍ او بندګۍ څرګندونه کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4809